مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

واحد فقيري ۲۰۱۹/۰۲/۰۲

# د افغانستان د سولي لپاره يوه نوې او تازه اسره. ولي جنګ دونه اوږد سو؟

د افغانستان د چارو څوان محقق او وتلی ليکوال ښاغلی ګرايمي سميت د جنوري پر ۳۱ په (دي ګلوب اينډ مېل) کي ليکي کله چي زه د لومړي ځل لپاره د افغانستان د سولي لپاره هيلمن سوم، هله زه يو ځوان ژورنالسټ وم. زه د کاناډايي عسکرو سره يو ځای د پنجوايي په ولسوالۍ کي وم. هلته هغوی عمليات کول. کاناډايي عسکرو د توپ دونه زياتي مرمۍ وېزولي چي زه ئي د څه وخت لپاره څه کوڼ کړی وم.

کله چي د طالبانو پر ضد د ناتو قواوو همدا تهاجمي عمليات د ۲۰۰۶ په مني کي پای ته ورسېدل، زه بېرته پنجوايي ته ولاړم، څو د هغو مشرانو سره وګورم چي د طالبانو سره يې د خبرو کولو کوښښونه کول. هله د هغوی په منيځ کي يو راز خوشبيني موجوده وه، هغوی هڅه کوله چي د خپلو ارزان قيمته ټيلفونو له لاري د طالبانو او دولتي مشرانو سره تماس ټينګ کړي. دي مشرانو باور لاره چي کېدای سي د طالبانو او حامد کرزي تر مينځ يوه مصالحه وسي، ځکه د کرز کلی فقط څو کيلومتره ليري پروت دئ. کله چي د پنجوايي يو مشر له يو طالب سره تيلفوني رخ سو، هغه ادعا کوله چي د ملا اختر منصور د ډلي په نماينده ګي خبري کوي.

په ټيلفون کي طالب چاړواکي وويل،«مشکل دا دئ چي کرزی، دار و دسته، او په حکومت کي ئي نور کسان طالبان په حکومت کي نه غواړي. ښايي دا څه وخت ونيسي: دوه، دری، څلور کاله. خو همدا زموږ هدف دئ.»

دي قومي مشرانو زما پر طرف په څېر څېر کتله. او د حال په ژبه ئي پوښتل: آيا خارجي قواوي به طالبان په حکومت ومني؟ البته زما لپاره د زياتېدونکي جنګ په تناسب خبري کول يو ښه بديل وو.

د کلونو په جريان کي، موږ ټول غلط ثابت سوو. پدې تېرو څو کلونو کي څه د پاسه يو لک خلک د جنګ کوله سول. د افغانستان جنګ نن سبا په ګرده نړۍ کي تر ټولو خونړی جګړه ده. او تېر کال د سوريي او يمن د دواړو جنګونو په پرتله زيات خلک په کښې وژل سوي دي.

د پنجوايي د سولي د ناکامه کېدو کيسه دا راته ښکاره کوي چي ولي د افغان جنګ دوامداره سو. بلخوا، دا مسله دا هم راته ښيي چي ولي د طالبانو او امريکايانو تر منيځ وروستی خبري د موفقيت ښه چانس لري. امريکايي ډيلوماتان ډاډه دي چي وروستيو مذاکراتو د يوې معاملي چوکاټ برابر کړی دئ، او ښايي ماهر او هوښيار ډيلوماتان ئي د سولي په موافقي بدل کړي.

څرګنده خبره ده چي ستونزمن مذاکرات لا په مخکي دي. د سولي چوکاټ صرف يو آغاز دئ. د دي موافقي ساتل او عملي کول به ډېر ګران وي. خو لدی سره سره عادي افغانان خوشبين دي، ځکه د سولي خبري په ملک کي د جنګ او مرګ ژوبلي د کمېدو زيری له ځان سره لري، چي اوس د هيواد په ګوټ ګوټ کي مخ پر زياتېدو دئ.

سوال دا دئ چي ولي سوله څو کاله پخوا را نه غله؟ د افغانستان د سولي جريان د تراژيدي او کاميډي يو ګډ داستان دئ. خو څرګنده خبره دا ده چي طالبانو په خپل موقف کي مهم بدلون نه دئ راوستی. د امريکا تشدد طالبان تسلمېدو ته مجبوره نه کړل. واقعيت دا دئ چي متحده ايالاتو کولای سوای چي دا راز معقولانه معامله حتی په ۲۰۰۶ کي هم وکړي، او يا حتی څه مخکي. امريکا بايد خپل توقعات را کښته کړي وای: يعني امريکا کولای سوای چي پرته له سترو او ګنو نظامي اډو څخه د تروريزم ضد خپل اهداف تر لاسه کړي. امريکا کولای سوای چي د افغان حکومت په برخه کي هم خپلي توقعات تعديل کړي، او طالبان او د هغوی پلويان پکښي ور ګډ کړي.
خو له بده مرغه، د امريکا او ناتو لپاره د يوې داسي لاري تصور مشکل ښکارېدی. د امريکا لپاره دا هم ستونزمنه وه چي د سولي لپاره کوښښ وکړي، ځکه په افغان حکومت کي د امريکا زياترو ملګرو د جنګ په تداوم کي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

شخصي کتي لرلي. د پنجوايي په کيسه کي، محلي مشران بالاخره پدې وتوانېدل چي د احمد ولي کرزي سره ملاقات وکړي. هله هغه په جنوبي افغانستان کي تر ټولو مقتدر کس وو. احمد ولي کرزی یو وخت په شیکاګو کي د یوه ستورانټ منېجر وو. کله چي هغه د پنجوايي مشران په خپلي جنګي کلا کي ملاقات کړل، هغه د افغانستان له شتمنو خلګو په جمله کي وو. د احمد ولي کرزي په مېلمستون کي به مدام زيات عارضان ناست ول. د هغه نوی او ځلانده بخت، باد راوړی ثروت، او په حکومت کي د هغه مقتدر مقام احمد ولي کرزی دېته اړ ایستی چي د طالبانو سره قدرت و نه وېشي.

که چيري امريکا غوښتي وای، هغوی په اسانی سره دا کشفولای سوای چي طالبان داسي غوښتني لري چي عملي او پوره کېدلای سوای. طالبانو د خارجي قواوو وتل غوښتل. بلخوا، هغوی غوښتل چي طالبان نور تروريستان و نه بلل سي، او دغه راز په حکومت کي يو نقش ولري. د طالبانو همدا دري واړه مطالبي همدااوس د مېز پر سر پرتي دئ، او ښايي نوري هم پر زياتي سوي وي.

څه چي ما د پنجوايي د حادثي په باره کي لا اوس هم زهېروي، هغه دا چي د کابل د حکومت هيڅ کس د دغه فرصت د ترلاسه کولو لپاره تلوسه نه لرله. هله پدې باب زما مقاله د اخبار پر اوله صفحه باندي خپره سوه. افغان حکومت دې مقالي ته لاسرسی لاره. پدې مقاله کي د ملا اختر منصور نوم ذکر سوی وو، هغه وروسته د طالبانو مشر سو.

واقعيت دا دئ چي طالبانو مشر په پنجوايي کي ناست وو، او د کاناډايانو تر بمباريو لاندي ئې فعاليت کاوه. له بده مرغه د سولي همدا چانس د نورو فرصتونو په شان ضايع سو. پدې ترڅ کي، د ايتلافي قواوو په زرهاوو عسکر ووژل سول، د افغان امنيتي قواوو تلفات په لسهاوو زرو ته جګ سول.

البته اوس د دې امکان سته چي د سولي لپاره دا وروستی چانس هم ضايع سي. خو دا کرت تفاوت دا دئ چي متحده ايالات او ملګري ئې د سولي په خبرو کي د خير پر غوندی نه دي ناست. خليلزاد راساً د طالبانو سره په مذاکراتو لګيا دئ. هغه په قطر کي له شپږ ورځني خبرو راوروسته اعلام وکړ چي د طالبانو سره يوی عمومي معاملي ته رسېدلي دئ. خليلزاد دغه راز تاکيد کوي چي طالبان بايد يو اوربند اعلام کړي. دا به وروسته معلومه سي چي ايا امريکا به همدې معاملي ته وفاداره پاته سي او کنه، او که به په تلوار له افغانستانه ووځي.

د امريکايي عسکرو د وتلو پلان نامعلوم دئ، او ښايي دا ابهام عمدي وي. ځکه د افغان حاکمه طبقه ښايي هڅه وکړي چي همدا پروسه وځنډوي. هغوی نه غواړي چي د امريکا پيسي او نظامي مرستي باندي قطع سي. بلخوا، که چيري طالبان د دې احساس وکړي چي امريکايان هسي هم وځي، بيا به هغوی د مذاکراتو لپاره هيڅ محرک و نه لري. پدې پړاو کي، د امريکا ابهام ښايي رغنده وي.

زياتره خلګ دا انديښنه لري چي که چيري طالبان په حکومت ور ګډ سي، څه به پېښه سي. د دې کار يو ښه والی دا دئ چي د کابل حکومت به د ګرده افغانستان نماينده ګي وکړي. کليوالي خلګ به ځان په حکومت کي ووينې. تېره مياشت د انتخاباتو کميسيون د پارلماني انتخاباتو مقدماتي نتايج اعلام وکړ. يوازي ۴.۳ ميلونه رايي اچول سوي وې، البته که چيري تقلب تري حدف سي. دا خبر دا ښيي چي يوازي قريب شل فيصده د رايو واجدو کسانو برخه په کښې اخيستي وه. مانا افغانان په جهان کي تر ټولو کم په رايه اچولو کي برخه اخلي.

د افغانانو نظرياتو ته بايد پام وسي، ځکه خطرات ښخي ډېر دي. که چيري په ډپلوماسی کي غلط ګام واخيستل سي، ښايي وطن يو ځل بيا داخلي جنګ ته سقوط سي.

خو بيا هم پدې تېرو څو کلونو کي، دا د سولي لپاره تر ټولو ښه فرصت دئ. امريکايان د وتلو لپاره جدي دي، او دا خبره د افغانستان او سيمي لپاره نوي افقونه پرانزي. په عين زمان کي دا د مذاکراتو لپاره نوی جديت هم د ځان سره لري.

کلونه کلونه پخوا، زه به په کندهار کي د کاناډايي ډپلوماتانو سره په مجلس لګيا وم. موږ به د کندهار ليري پرتو غرونو ته کتل، او د يو بل څخه به مو پوښتل چي ايا داسي وخت به راسي چي موږ د سياحانو په څېر دلته راسو، او هغه غرونو ته پورته سو. او يا د سولي راتګ دونه وځنډېږي چي زموږ زاړه زنګونه او هډوکي به موږ لدې خيال څخه راوګرځوي. کله نا کله زه دونه نا اميده سم چي ښايي هيڅکله پدې و نه توانېږم چي د هغو جګو هسکو غرونو له سر څخه د پنجوايي زرغونه باغونه ووينم. خو نن سبا، د دې ټولو خبرو سره سره، زه يو کرت بيا هيلمن او خوشبين يم.

پای

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په څير و لولئ